افغانستان اسلامي جمهوريت

دماليې وزارت

دعوايدو لوی رياست

# پر عايداتو باندې ماليه: د عمومی او خصوصی طرزالعملونو پروګرام

پر دغه طرزالعمل باندې اتکا:

دغه عمومي طرزالعمل د ١٣٨٤ کال پر عايداتو باندې د ماليا تو قانون د (١١٣) مادې باندې په اساس وضع شويدی او کيدای شي پدې کې درج معلوماتو نه ماليه ورکوونکي د خپلو مالياتي مسؤليتونو پيژندلو په موخه استفاده وکړې.

**سريزه**

1- پرعايداتو باندې د مالياتو قانون(**١١٣**) ماده ماليې وزارت ته دا واک ورکوی چې د ١٣٨٤ کال پر عايداتو باندې د مالياتو قانون د تطبيقولو د طريقې د توضيح او تشريح په موخه عمومی طرزالعمل صادر کړی.
2- دماليې وزارت بايد خپل صادر شوي طرزالعمل نه پيروي وکړي دا پدې معنی ده چې د ماليې وزارت نه شي کولای د ماليه ورکوونکي د مالياتي مسؤليت د ارزولو په موخه داسې موقف خپل کړي چې وضع شوي طرزالعمل سره په تضاد کې وي.(سره له دې هم لکه څنګه چې لاندې تشريح شوي دي د ماليې وزارت کولاي شي په قانون کې د اصلاحاتو پر اساس د يو طرزالعمل پر ځاي بل نوی طرزالعمل وضع کړي).
3- هغه شخص چې موقف ئې د ماليې وزارت د وضع شوي طرزالعمل له مخې ټاکل شوی وي، د اضافي مالياتو او يا جريمو تابع نه ګرځي حتی په هغه صورت کې هم چې نوموړی وضع شوی طرزالعمل د محکمې لخوا د قانون نا سم تعبير په توګه ثابت شي.

## عمومی طرزالعملونه پر ماليه ورکوونکو باندې جبري نه دي.

٤- عمومی طرزالعملونه پرماليه ورکوونکو باندې جبري نه دي.که چيرې ماليه ورکوونکی پوه شي چې له قانون نه دماليې وزارت تعبير ناسم دی، نو کولای شي خپل هغو ماليا تو په اړه د بيا ارزوني غوښتنه وکړي چې د ماليې وزارت د طرزالعمل له مخې ترې اخستل شوي دي.

٥. په هغه صورت کې چې يو شخص د مالياتي طرزالعمل پر خلاف کار وکړي او وروسته ثابته شي چې له قانون نه د ماليې وزارت تعبير سم دی، نو نوموړی به د ماليې وزارت د طرزالعمل سره سم ماليه ورکوي. سره له دې ( د ماليې وزارت د طرزالعمل سره د ماليه ورکوونکي تضاد موقف اختيارولو د پريکړې د شرايطو په پام کې نيولو سره ) کيدای شي نوموړی شخص اضافي ماليا تو او يا جريمو تابع وګرځي.

هغه عاملونه چې شوني مسؤليتونه متاثره کوي عبارت دي له:

- آيا ماليه ورکوونکي په خپل مالياتي اظهار ليک کې داسې ويلي هغه موقف چې ده خپل کړیؤو له قانون نه د ماليې وزارت تعبير سره خلاف دی؟
- آيا د ماليه ورکوونکي موقف د تعبير پر اساس د قانون سره متضاد دي چې کيدای شي محکمه د هغهٔ موقف د بحث وړ وګڼي ؟
- آيا ماليه ورکوونکي خپل متضاد موقف

- په غلطۍ سره د ماليې وزارت د موقف نه د نه پوهيدو له امله پريکړه کړی
- په بې توجهۍ سره د ماليې وزارت د موقف نه د نه پوهيدو له امله پريکړه کړی
- د ماليې وزارت له موقف نه خبر ؤو مګر داسې دليلونو لرلو له مخې چې د ماليې وزارت موقف يې غلط ثابتوۀ، پريکړه کړی
- د ماليې وزارت له موقف نه خبر ؤو مګر داسې دليلونه ئې نه لرل چې د ماليې وزارت موقف غلط ثابت کړی وای، پريکړه کړی.

## ديوه عمومي طرزالعمل بدلول

6- دماليې وزارت کولای شي هر وخت کې وغواړي د نوي طرزالعمل په خپرولو سره عمومي طرزالعمل لغوه کړي. کله چې يو طرزالعمل لغوه يا تبديليږي، نو نوی عمومي طرزالعمل پ پدې اړه توضيح ورکړي چې ماليه ورکوونکي نه شي کولای د زوړ طرزالعمل نه پيروي وکړي.

7- هغه طرزالعمل چې د بل طرزالعمل پرځای وضع کيږي، دهغو ماليه ورکوونکو په اړه به ځيني موقت احکام ولري چې له مخکينی طرزالعمل نه پيروی کوي. تبديل شوي طرزالعمل تر هغو مالي کلونو پورې د اعتبار وړ دی چې نوی طرزالعمل پکې وضع شوی دی او پر ماليې وزارت باندې جبري دی. نوي طرزالعمل به تشريح کړي چې کومو شرايطو لاندې د تبديل شوي طرزالعمل نه په هماغه کال کې چې طرزالعمل تبديل شوی دی او يا په راتلونکو کلونو کې کوم ماليه ورکونکی به وارزول شي.

## خصوصي طرزالعملونه

پرعايداتو باندې د مالياتو قانون (۱۱۳) د ماليې وزارت ته واک ورکوي چې د ځانګړي ماليه ورکوونکي ځانګړو حالاتو په پام کې نيولو سره د هغۀ په اړه ځانګړی طرزالعمل صادر کړي.

8- دعمومي طرزالعمل په شان،د خصوصی طرزالعمل صادرول دماليې وزارت له مکلفيتونو څخه دی. دا پدې معنی دی چې د ماليې وزارت نه شي کولای د ځانګړي ماليه ورکونکي د مالياتي مسؤليتونو ارزونې په موخه داسې ځانګړی موقف خپل کړي چې د نوموړي ماليه ورکونکي په اړه د ماليې وزارت ځانګړي طرزالعمل سره تضاد وي. د ماليې وزارت لخوا ځانګړي وضع شوي طرزالعمل يواځې د ځانګړي معاملې يا اقدام او يا هم د هغۀ مالي کال د ارزونې په اړه جبري دی چې ماليه ورکوونکي ئې غوښتنه کړي وي مګر داچې د نوموړي طرزالعمل په اړه ښکاره مخالفتونه موجود وي.

9. همدارنګه د ماليې وزارت هغه وخت د ځانګړي طرزالعمل پر صادرولو مجبور دی چې درخواست کوونکی د نوموړي طرزالعمل په اړه ټول ضروري شواهد او مدرکونه نوموړي وزارت ته وړاندې کړي وي.

10- د ځانګری طرزالعمل صادرول څکه پر ماليې وزارت باندې جبري دی چې درخواست کوونکي د نوموړي طرزالعمل په اړه ضروري مدرکونه او شواهد ماليې وزارت ته وړاندې کړي دي او له ځانګړي طرزالعمل څخه درخواست کوونکي نه پرته بل هيڅ څوک استفاده نه شي کولای.

**د انفاذ نیټه:**
دا عمومي طرزالعمل د ۱/۱۳۸٤ طرزالعمل پر ځای صادر شوی او د ۱۳۸٤ هجري لمريز کال لړم میاشت ۲۲ نیټې څخه نافذ دي (دا پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د نفاذ نیټه هم ده).

---

ددې طرزالعمل اصلي نسخه د عوایدو عمومي رئیس احمد جاوید جلالي لخوا لاسلیک شوي دي:
**۱۳۸۵** کال د سلواغې **۲۹** (**۲۰۰٦** کال دفبروري **۱۸**)

---

پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون لاندې موادو ته مراجعه وکړئ:

| | |
|---|---|
| عمومي طرزالعمل | پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون (**۱۱۳**) ماده |
| خصوصي طرزالعمل | پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون (**۱۱۳**) ماده |

ضمیمه: پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون **۱۳۸٤** کال

---

پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون (**۱۱۳**) ماده

د کړنلارې وضع کول او د فورمو برابرول
(**۱**) د مالیې وزارت د مالیاتو د تشخیص، تثبیت او اخستلو په منظور هغه فورمې چې د حکمونو مطابق اړینې ګڼل کیږي برابروي.
(**۲**) د مالیې وزارت ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون تعلیماتنامه، جلا کړنلاره او لایحه (عمومي او انفرادي) وضع کوي.

---